# په افغانستان کې باید ښوونه او روزنه تر سیاست لومړیتوب ولري

## د نړیوالې ټولنې او طالبانو ترمنځ اختلاف د میلیونونو افغان ماشومانو زده کړه له ګواښ سره مخ کړې ده.


لیکونکی : دکتور سلطان برکات

په دوحه انستیټوټ کې دشخړو او بشري مطالعاتو مرکز مشر.

ژباړه: دشخړو او بشري مطالعاتو مرکز -دوحه


دې ورزو کې افغانستان له یو نازک حالت سره مخ دی، چې په داسې حالت کې د پوهنې/تعلیم نظام د سقوط د مخنیوي په خاطر نړیوالو مرستو ته بیړنی اړتیا لري. د پوهنې په برخه کې په تیرو ۲۰ کلونو کې پرمختګونه د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د لاسته راوړنو یو غوره نښه (سمبول) دي، چې له ۹ میلیونو څخه ډیر ماشومان په ښوونځیو کې شامل شوي دي.

په هرصورت، د یونیسف بیان مطابق، اوس مهال له ۴ ملیون څخه ډیر ماشومان له ښوونځي څخه بهر دي، چې نیمایي څخه زیاتې ئې نجونې دي. هغه ګډوډ اقتصادي حالت او بشري ناورین چې هېواد یې ځپلی دی، داسې وړاندوینې کېږي چې په راتلونکي کال کې به دغه حالت لا نورهم خراب لورته لاړشي، او د تېرو دوو لسیزو پرمختګونو به له مینځه تللو ګواښ سره مخ شي. په هرات ولایت کې په سلګونو زره ښوونکو ته له شاوخوا شپږو میاشتو راهیسې معاشونه نه دې ورکړل شوي، او له طالبانو یې غوښتي چې معاشونه یې ورکړي.

دا په تیزۍ سره خرابیدونکی وضعیت په نړۍ کې د تعلیم ترټولو خراب بیړني حالت رامینځته کوي.( یو ان اچ سی آر) [UNHCR ]خبرداری ورکړی چې نږدې 23 ملیونه خلک له خورا سختې لوږې، او۹ نهه ملیونه د قحطۍ له خطر سره مخ دي. د افغانانو اقتصاد او دژوندانه وسائل له ګواښ سره مخ کیدو حالت کې، به ممکن ډیری افغان کورنۍ دې ته اړ شي چې د زده کړې تعقیب پرځای دخپل ژوند

د بقا انتخاب غوره کړي. دا یو حقیقت دی که چیرته مدرسې په افغانستان کې د ښوونځیو د اصلي بڼې په توګه بیا راپورته کیږي، نو لوی احتمال شته چې د زده کړې کچه او کیفیت به په چټکۍ سره راټیټ شي، او د افغان ماشومانو لا دمخه محروم نسل به د زده کړې دفرصتونو څخه نور هم پسې محروم شي.

د بحران د کمولو لپاره، تعلیم ته باید د سیاست په پرتله لومړیتوب ورکړل شي. د ښوونې او روزنې سپیڅلتوب یوکلک ساتل شوی ټولنیز ارزښت دی، چې له یوې خوا په اسلام کې په مرکزیت کې ځای لري. "د خپل رب په نوم ولولئ"، دا مفهوم د قرآن کریم لومړی آیت دی چې پر حضرت محمد (ص) نازل شوی دی.

پرته له شکه چې د زده کړې دغه ارزښت ساتل د طالبانو په واک کې راتللو وروسته، د دې ډلې مسؤلیت ګرځي چې وې ساتي. په هرصورت، د ننګونو لوړې کچې ته په کتوسره، دلته نړیوال ملاتړته په چټکۍ سره اړتیا ده. لاندې پیغامونه باید دافغانانو او نړیوالو برخه اخیستونکو/کار کوونکو لخوا په پام کې ونیول شي، او دتعلیمي بحران د حل کولو لپاره باید په ګډه کار وکړي.

لومړی،

د نجونو د زده کړو لپاره د ښوونځیو د جوړښتونو د نیمګړتیا یا د جنسیت د جلا کولو په اړه د طالبانو له خوا ځینې عجیبه څرګندونې داسې انګیرل کیږي چې د دوی راتګ دا تعلیمي بحران رامینځته کړی دی. اوسنې وضعیت ته په کتوسره ولاړې ننګونې چې ریښې یې ژورې جوړښت لري او له اوږدې مودې سره تړلې دي. – او دطالبانو له راتګه لا دمخه هم دغه ننګونې وې. په دې سیستمیک کمزورتیاوو کې ډیری عناصر لکه دمثال په توګه: د ټیټ تعلیمي کیفیت، زده کړو ته د نجونو لاسرسي کې کلتوري محدودیتونه، د افغان حکومت حکومتي ټیټ ظرفیت او پر مرستو تکیه، او د روزل شویو ښوونکو لږې پرتو کلیوالو سیموته هڅول چې کډه شي، دغه ټول شامل دي.

دوهم،

پورتني شرایط هغه څه محدودوي چې په لنډ وخت کې د طالبانو څخه دمعقولو لاسته راوړلو تمه وشي. ښوونځیو ته د نجونو بشپړ راستنېدل نه یوازې د نړیوالې ټولنې یوه ستره غوښتنه ده، بلکې یو نړیوال حق او د هېواد د پرمختګ اصلي ماشین دی. نړیواله ټولنه په حقه ده چې ویره لري طالبان به ممکن د ښځو او نجونو تعلیمي آزادي محدوده کړي، لکه څنګه چې یې د 1996 څخه تر 2001 پورې په افغانستان د واکمنۍ پرمهاله کړې وه. مګر بیاهم طالبانو واک ته د بیرته راستنیدو وروسته، دا ډول ویره ننګولې، او په ډیرو شمالي ولایاتو کې لکه کندز، بلخ او سرپل او نورو کې نجونو ته بېرته ښوونځیو ته د تللو اجازه ورکړی.

د افغانستان په شمال او جنوب کې د زده کړو دوه مختلف چلندونه د اندیښنې لامل شوي دی، ډیری کتونکي دا پوښتنه کوي چې ولې نجونې بیا په کندهار، هلمند او ګاونډیو ولایتونو کې منځنیو ښوونځیو ته نه شي تلای-لکه څرنګه چې په شمالي ولایاتو کې غه بهیر روان دي-. ؟ نودلته به غوره داوي چې همدا کتونکي هغه پیچلي کلتوري مسلې په ګوته کړي چې دافغانستان په مختلفو سیمو کې د زده کړې لاسرسي او مساوات لپاره چاپیریال رامینځته کوي. دمثال په توګه، د طالبانو له واک څخه مخکې هم، په افغانستان کې د کلتوري بدلون لوړې کچې په جنوبي ولایتونو کې د نجونو لپاره د ښوونځیو د خوندي کولو او

اجازه ورکولو لړ کې د حکومت هڅې خنډنئ کړې وې. نو دا طبیعي ده چې د طالبانو حکومت به هم له دغو خنډونو سره مخ شي، مګر بیا هم د نجونو او هلکانو دتعلیم موضوع د غوره پائلو د یقیني کولو لپاره د خبرو اترو او پوهاوي چلولوامکان شته چې باید ترسره شي.

دریم،

چې تر ټولو مهمه ده، هغه دا چې د افغانستان د ښوونې او روزنې سیستم په خپلو پښو په دومدارتوګه ودریږي پراخو بهرنیو مرستو ته اړتیا ده چې ترسره شي. د افغانستان په عامه ښوونیز نظام کې شاوخوا(۲۲۰۰۰۰) دوه لکه شل زره ښوونکي شتون لري. سره ددې چې داشمیره ډیره لویه کچه معاشونو ته اړتیا لري، مګر بیاهم د پوهنې وزارت په افغانستان ترډیره ددې معاشونو دحکومت دبودیجې څخه په ورکولو مسؤلیت لري. حقیقت دا دی چې افغان ښوونکي له شاوخوا شپږو میاشتو راهیسې معاشونه نه دي ترلاسه کړي، او دا د ښوونیز بهیر د بیرته عادي کولو پر وړاندې تر ټولو لوی خنډ دی.

مونږ وینو چې په افغانستان کې د بانکدارئ ستونزې د پوهنې بودیجې بهرنئ مرستې ډیر پیچلې کړې، نړیوالې بسپنه ورکوونکې او نادولتې موسسې کولی شي په مستقیم ډول د معاشونو لګښتونو پوښښ، د اکمالاتو تدارک، او په غوره او خوندي تاسیساتو او زیربناوو کې د پانګونې له لارې د افغان ښوونځیو سره مرسته وکړي. یاد دې وي چې ښځینه کارکونکي د افغانستان د ښوونیز ځواک شاوخوا یو پر دریمه برخه جوړوي، د هغوی د معاشونو ملاتړ به د غربي بسپنه ورکوونکو لپاره یوه ډیره رغنده او مستقیمه لاره وي چې دلته اوس د نجونو د زده کړې په اړه پریکړې وکړي او دوی ته په دغه چاپیریال برابرولو کې رول ولوبوی، دا چاره به په دوی اتمام حجت وي چې بیا ئې په ائنده کې دنجونو دزده کړو اړوند تکرار نه کړي.

څلورم،

څلورم، په افغانستان کې د ښوونې او روزنې پر کیفیت ټینګار د پوهنې د پراختیا په څیر مهم دی. د ښوونکو په وده کې لوی خنډ او د ښوونکو کمښت دواړه په چټکۍ سره د ښوونځي سیستم ظرفیت لوړو ته اړتیا لري چې باید لوړ کړاي شي، او په ټول هیواد کې د دندې پر مهال د روزنې نوی پلان پلي کړي. دا پروژه د ملګرو ملتونو لخوا د مخکښو سیمه ایزو سازمانونو په مرسته چې د تعلیمي پراختیا په برخه کې تخصص لري، لکه په دوحه کې چې (زده کړه د ټولو بنسټونو څخه پورته) مؤسسه ده دې لړ کې غوره ممد ګرځیدای شي.

داسې نښې نښانې شته چې طالبان د باکیفیته زده کړو په برخه کې رغنده ښکیلتیا ته چمتو دي اوهغه ویره چې دوی به په بیړه، بې ترتیبه او ایډیالوژیکي نصاب کې اصلاحات تعقیب کړي داخبره بې اساسه ثابته شوې ده، دیوې نښې/دلیل په توګه موږ د طالبانو د استازو داخبره یادولی شو چې دوی تصمیم لري د یونیسف لخوا د درسي کتابونو د رسولو پروګرام بیرته پیل او پخواني کتابونه چې ددوی لخوا چاپ شوي په ښوونځیو باندې وویشي.

په پای کې، په افغانستان کې ښوونه او روزنه د دوو لسیزو جګړو په ترڅ کې په مستقیم ډول له بریدونو سره مخ شوې ده. د هوایي بریدونو، مرمیو او د ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو د کارولو په پایله کې ښوونکي او زده کوونکي ټپیان او یا وژل شوي او ښوونځي زیانمن شوي دي. د بېلګې په

توګه، په ۲۰۱۶ کال کې د بغلان ولایت په یوه سیمه کې ۱۲ ښوونځي نیول شوي او یا د پوځي موخو لپاره کارول شوي وه، همدا ډول په ۲۰۱۷ کال کې پر کندوز د امریکا د هوایي برید لامله ښوونځي ویجاړ شوي دي.

په داسې حال کې چې موږ پوهیږو چې جګړو د افغانستان د پوهنې پر سیستم دومره اغیز کړی، چې موږ ئې دتعداد په اړه کره او دقیق معلومات نه لرو چې دجنګونو په پایله کې به په دغه هیواد کې څومره ښوونځي زیانمن شوي وي. له همدې امله، مدني ټولنې او نادولتي سازمانونه او نړیوالې ادارې باید دې معلوماتو ته لاسرسی ومومي ترڅو د ننګونو اندازه او ارزونه وکړي او د زده کړې بیا پیلولو لپاره تعلیمي ستراتیژۍ رامینځته کړي.

ما په دې وروستیو کې د طالبانو د حکومت له چارواکو، د پخواني حکومت له وزیرانو، د مرستندویه هېوادونو له ډیپلوماتانو، او د نادولتي موسسو له استازو سره وکتل ترڅو په افغانستان کې د پوهنې د سکټور پر وړاندې د ننګونو په اړه خبرې وکړو. د بانکدارۍ یا عدلیې په څېر سکټورونو برخلاف -چې له دغه ستکورونوڅخه د اګست له میاشتې راهیسې د پام وړ شمیر مسلکي کسان له افغانستان څخه تښتیدلي-، دپوهنې په سکتور کې ښوونکي په لویه کچه په هیواد کې پاتې دي.

طالبانو ښوونې او روزنې ته د بشپړ لاسرسي په برخه کې له نړیوالې ټولنې سره د ښکیلتیا لپاره لېوالتیا ښودلې او په ټولو کچو کې د ښځو او نجونو د شاملولو لپاره د پرمختګ د تایید او څارنې د هڅو هرکلی کوي. د[بشریت ته نزدې شی] تګلارې ته په کتو، ما په یوه وروستې نظر کې، استدلال وکړ چې پوهنه او روغتیا دوه داسې سکتورونه دي چې د لویدیځ مرستندویه ادارې کولی شي دطالبانو حکومت په رسمي پیژندلو نه پرته له طالبانو سره د اړیکو او همغږۍ چینلونه پرانیزي.

د تعلیمي همکاریو لپاره د غوره ننوتلو نقطه په افغانستان کې د تعلیمي کال دپیل له لارې کیدای شي. د ژمي په را رسیدو سره به د افغانستان په شمال او ختیځ کې ډیری ښوونځي د 2022 تر مارچ پورې وتړل شي. نو دغه مهالویش موږ ته دا فرصت را برابروي چې اوس مهال هغو ښوونځیو سره تعلیمي مرستې ترسره شي چې اوس مهال خلاص دي. دا ډول مرحله واره کړنلاره د افغانستان د پوهنې بحران دکمولو یوه ښه انتخاب دی چې کولی شو د ولایت، موقعیت او په سیمه ایزه کچه ئې سم تحلیل وکړو او یو ستراتیژیک فکر ورته برابر کړو، په پای کې به دا تګلاره دغه ستونزې ته یو مثبت ځواب وړاندې کولو وړ وګرځي، چې تر ډیره به کم مصرفه وي.

د مرستندویه سازمانونو وروستی خبرداری چې ښایي سږني ژمي کې یو ملیون افغان ماشومان مړه شي، دا خبر داری په حقیقت کې دا موضوع لا نوره هم بیړنۍ کوي چې تعلیمي مرستې بشری ننګونو ته دځواب ویلو تګلارې یوه مهمه برخه وګرځوي. نه دا چې حاشوي درجه ورته ورکړي، ښوونه او روزنه یوه حیاتي موضوع ده چې باید پوره پاملرنه ورته وشي، هغه دا چې په ښوونځیو کې پانګونه وشي ترڅو ترې تعلیمي هدف ترلاسه شي، چې شاګردانو ته خواړه او د دوی ساتنه او دوی سره بیړنۍ مرستې په خپله په دې کې راځي.